

# څنګه خپل Good To Go! حساب د حق العبور له بل څخه پرانیزئ

په انلاین ډول www.MyGoodToGo.com ته ورشئ او د بیان آیډي شمیره او د خپل جواز پلیټ نمبر په هغه خانه کې ولیکئ چې "Pay, dispute or lower toll bill (د حق العبور بېل ادا کړئ، اعتراض پرې وکړئ یا یې کم کړئ)" وایي او ډاډمنه کړئ چې ستاسو پلیټ هم سم حالت په نښه کړئ. بیا ارغواني تڼۍ "GO (لاړ شئ)" کېکاږئ.





که تاسو لنډمهاله license plate (لایسنس پلیټ) لرئ، ډاډمنه کړئ چې د خپل license plate (لایسنس پلیټ) شمیرې تر دننه کولو مخکې د "This is a Temporary Plate (دا یو لنډمهاله لایسنس پلیټ دی)" په نښه شوې خانه باندې کلیک وکړئ.



# د "Toll Bill Summary(حق العبور د بېل لنډيز)" په پاڼه کې

تاسو به اړ وئ چې پر هغو آپشنونو کلیک وکړئ چې وايي "Lower this bill with a *Good To Go!* account(دغه بېل د *Good To Go!* حساب سره راکم کړئ)".

دغه آپشن اجازه درکوي چې *Good To Go!* حساب جوړ کړئ او خپل د بېل ټولټال اندازه به د یاد غوراوي په ښي اړخ کې ښودل شوي مقدار ته راکم کړئ. کله چې تاسو غوراوی انتخاب کړ، د پاڼي د ښکته برخي په کيڼ اړخ کې د "NEXT (بل یا راتلونکی)" تڼی باندي کلیک وکړئ.



Toll Bill Summary

Customer ID: [redacted]

123address Ave NE
Seattle, WA 98115-7118

View recent activity

| | |
|---|---|
| Tolls | $11.75 |
| Fees/Civil penalties/Other | $0.00 |
| **Current balance due** | **$11.75** |

**How would you like to pay?**

- **Lower this bill with a *Good To Go!* account** — **$8.25**
  Create an account with auto pay and save $3.50 today. It's free and takes less than 10 minutes.
- **Pay total amount due** — **$11.75**
  Pay the full amount due without creating an account.
- **Make a partial payment** — $ Other amount
  NOTE: You must pay the full bill by the due date to avoid late fees and civil penalties.

NEXT | DISPUTE CHARGES

نوي ټولټال اندازه


# د “Account Access (حساب ته لاسرسی)” په پاڼه کې

یو کارن نوم، پسورډ او څلور عددي پین غوره کړئ.

ستاسو کارن نوم باید لږ تر لږه شپږ کرکټرونه ولري او باید یوازې توري، عددونه ولري یا یوه معتبره برېښنالیک پته وي.

پسورډ مو باید لاندې هغه وکاروي:

- لږترلږه اته کرکټرونه
- لږترلږه یو یې لوی لیکل کېدونکی توری وي
- لږترلږه یو یې کوچنی لیکل کېدونکی توری وي
- لږترلږه یو یې عدد (0-9) وي





کله مو چې یو معتبر کارن نوم، پسورډ او پین غوره کړ، د پاڼې په ښکته برخه کې د "NEXT (بل یا راتلونکی)" تڼی باندې کلیک وکړئ.

# د “Customer Information (پېرودونکي معلومات)” په پاڼه کې


د فورمو په ټولو هغو خانو کې چې په ستوري (*) سره په نښه شوي وي، سم معلومات دننه کړئ.

تاسو باید خپل نوم او تخلص، یوه معتبره بریښنالیک پته او یوه معتبره د ټلیفون شمیره دننه کړئ. که غواړئ چې مهم خبراوي په لیکلي پیغام کې ترلاسه کړئ، نو پر هغه خانه کلیک وکړئ چې وایي "Send me text message alerts (ما ته په لیکلي پیغام کې خبراوي راولېږئ)".




Good To Go!™ WSDOT

بیا خپله پستي پته داخله کړئ:





ممکن یو پاپ اپ مخې ته درته راشي چې له تاسو غواړي چې خپله پته تایید کړئ ځکه چې له هغه څه سره سمون نه خوري چې د متحده ایالتونو پستي خدمت (USPS، United States Postal Service) یې پته پیژني. بس هر هغه پته تایید کړئ چې سمه وي.




بیا د پاڼې د ښکته برخه کې د "NEXT (بل یا راتلونکی)" تڼۍ باندې کلیک وکړئ.

# د “Vehicles (لېږدونکي وسیلې)” په پاڼه کې

د خپل لایسنس پلیټ معلومات دننه او ډاډمن کړئ چې ل لاندي راښکته کېدونکي مینو څخه د پلیټ مناسب ډول غوره کړئ.





د لېږدوونکي وسیلې لقب

که تاسو شخصي شوی لایسنس پلیټ (license plate) لرئ، ډاډمن کړئ چې پر هغې خانې کلیک وکړئ چې وايي، " This is a personalized license plate (دغه یو شخصي شوی لایسنس پلیټ دی)".




Good To Go!™ WSDOT

بیا خپل لایسنس پلیټ شمېره (license plate) دننه کړئ او راتلونکي راښکته کېدونکو مېنیو ګانو په کارولو سره د خپلي لېږدوونکي وسیلي معلومات دننه کړئ.




د لایسنس پلیټ شمېره (License plate)


که ستاسو د لیږدوونکي وسیلې جوړونکی او ماډل په لاندې راښکته کېدونکې مینیو کې د آپشنونو په توګه لیست شوي نه وي، نو پر هغې خانې کلېک وکړئ چې وايي "This is a non-passenger vehicle (دا یو غیر مسافر وړونکی موټر دی)" چې اجازه به درکړي چې د ورکړل شوي لیست د کارولو پر ځای د جوړوونکي او ماډل دننه کړئ.




وروسته تر دې چې ټول معلومات مو وکتل چې سم دي، بیا د پاڼې په ښکتنۍ برخه کې د "NEXT (بل یا راتلونکی)" تڼۍ باندې کلیک وکړئ.

# د “Passes (کارتونه یا پاسونه)” په پاڼه کې


تاسو دغه غوراوی لرئ چې هغه پاس یا کارت فعال کړئ چې تاسو یې له مخکې لرئ یا هم یو کارت یا پاس وپېرئ. د هر کارت مختلفي ګټې دي:




د Sticker pass (ستیکر کارت یا پاس) قیمت 5$ جمع مالیه هم ورسره ده او د هغو موټر چلوونکو لپاره خورا مشهور غوراوی دی چې د I-405 ایکسپریس حق العبور اخیستونکو لینونو یا لوړ اشغالوونکی حق العبور SR 167 (High-Occupancy Toll, HOT) لینونو کې په نوبتي ډول تګ ته اړتیا نه لري. یاد کارت اجازه درکوي چې د Washington په ټولو حق العبور اخیستونکو سړکونو کې حق العبور ورکړئ. کله چې پاس یا کارت ستاسو د موټر په برف‌پاک پورې وصل شي، نو لرې کول به یې له منځه یوسي.

د (Flex Pass) فلیکس پاس یا کارت لګښت 15$ او مالیه هم ورسره ده او تاسو ته اجازه درکوي چې په I-405 ایکسپریس حق العبور اخیستونکو لینونو او SR 167 HOT لینونو کې د موټر پلورنځي کې وړیا سفر وکړئ کله چې مو په موټر کې کافي خلک وي. دغه راز دي ته کار ورکوي چې د Washington په ټولو حق العبور اخیستونکو سړکونو کې حق العبور ورکړئ کله کافي خلک درسره نه وي چې په په نوبتي ډول موټر وچلوئ.

Good To Go!™ WSDOT




د License Plate (لایسنس پلیټ) پاس یا کارت 12$ جمع مالیه هم ورسره ده او د هغو موټر چلوونکو لپاره یو بدیل دی چې ځانګړي برفپاکونه لري چې د پاسونو یا کارتونو او حق العبور ورکولو تجهیزاتو ترمنځ سیګنالونه بندوي. که تاسو پر دې ډاډه نه یاست چې دغه پاس یا کارت ته اړتیا لرئ که نه، د خپل مالک لارښود وګورئ، ځکه چې ډېری هغه موټرونه چې ځانګړي برفپاکونه لري، په برفپاک کې یو ځانګړی ځای هم لري چې کولی شئ پاس یا کارت پکې نصب کړئ، او دا به کار وکړي.

د Motorcycle pass (موټرسایکل پاس یا کارت) 8$ او مالیه هم ورسره ده. موټرسایکلونه تل کولی شي د I-405 ایکسپریس حق العبور اخیستونکي لینونو او SR 167 HOT لینونو څخه وړیا ګټه پورته کړي، خو به د تاکوما ناروز پل ( Tacoma Narrows Bridge)، SR 520 پل او SR 99 تونل کارولو پر مهال ټحق العبور ادا کړي. کله چې پاس یا کارت ستاسو پر موټرسایکل پورې وصل شي، نو لرې کول به یې له منځه یوسي.

په هر پاس یا کارت کې د "Qty (مقدار)" تر څنګ له لاندې راښکته کېدونکي مینو څخه کار واخلئ ترڅو انتخاب کړئ چې له هر ډول څخه څومره غواړئ وپېرئ.




تاسو اړ نه یئ چې کوم پاس یا کارت وپېرئ، خو که تاسو په خپل موټر کې پاس نصب کړئ نو تاسو به په هر سفر کې پیسې ذخیره کړئ. له کارت یا پاس پرته به د هر سفر پر سر 25 سېنټه اضافه ورکړئ.


کله مو چې انتخابونه وکړل، د پاڼې لاندې برخې ته راښکته شئ او "NEXT (بل یا راتلونکی)" تڼۍ باندې کلیک وکړئ.

## د "How to pay (څنګه اداینه وکړئ)" په پاڼه کې

تاسو باید چې د خپل حساب ډول انتخاب کړئ:

مخکې اداینه: کله چې تاسو خپل حساب پرانیزئ، د راتلونکي عوارضو د پوښلو لپاره 30$ مخکې له مخکې تادیه کړئ. کله چې ستاسو د حساب بیلانس کم شي، په اتومات ډول د کریډټ له لارې بیا ډکیږي. یا کولی شئ د میاشتې ځانګړې ورځې انتخاب کړئ ترڅو حساب د electronic checks (برېښنايي چکونو) له لارې ډک کړئ.


Pay As You Go (له کاروني سره هممهاله اداینه): تر موټر چلولو وروسته حق العبور په اتومات ډول په میاشت کې دوه ځله پر کریډټ کارت اچول کیږي. مخکې ادایني بیلانس ته اړتیا نشته.




**<u>که مو Pay As You Go (له کاروني سره هممهاله اداینه) انتخاب کړی وي،</u>** نو وبه کولی شئ چې NEXT (راتلونکی) تڼۍ کېکاږئ او Review & Pay page (د بیاکتنې او ادایني پاڼې) ته لاړ شئ.

**<u>که مو مخکې اداینه انتخاب کړې وي،</u>** بیا به اړ وئ چې payment method د (ادايني طريقه) انتخاب کړئ - یا کریډټ کارت یا electronic check (برېښنايي چک)

د electronic check (برېښنايي چک) اتومات پاک کېدونکی کور (Automated Clearing House, ACH) له لارې اداینه، ستاسو حساب یا اکونټ په میاشت کې دوه ځله ډکیږي ترڅو اصغري بیلانس وساتئ. که مو بیلانس د بیا ډکولو تر مخکې ټاکل شوي نیټې مخکې تر 0$ کم شي او تاسو د حق العبور سره سفرونه کوئ، ممکن په پست کې د حق العبور بېل ترلاسه کړئ. که ترجیح ورکوئ چې ستاسو حساب تر 0$ ښکته کیدو مخکې ډک شي، نو تاسو به اړ وئ چې په "credit card (کریډټ کارت) سره تادیه وکړئ" آپشن انتخاب کړئ.




کولی شئ خپل حساب ته نورې پیسې د د لاندې انځور شوي فورمې په خانه کې د مقدار په لیکلو سره اضافه کړئ کله چې یې پرانیزئ:





**که تاسو Electronic Check (برېښنايي چک) انتخاب کړی وي،** نو د خپل حساب د ډکولو آپشن لرئ چې په اتومات ډول دي ډک شي.

که غواړئ چې د اداینې سرچینې څخه یو ټاکلی شوی مقدار واخیستل شي ترڅو ستاسو *Good To Go!* (ښه ده چې لاړ شئ) حساب بیا ډک شي کله چې بیلانس د یوې ټاکلې اندازې څخه ښکته شي، نو "زما حساب په اتوماتیک ډول ډک کړئ" خانه باندې کلیک وکړئ. د فورمې په ساحه کې تر خانې لاندې ده، هر ځل هغه مقدار دننه کړئ چې غواړئ خپل *Good To Go!* حساب ته یې اضافه کړئ. د بیا ډکولو اندازه باید تر $30 کمه نه وي.




بیا تاسو دغه آپشن لرئ چې په میاشت کې دوې ورځې انتخاب کړئ چې ستاسو د اداینې له سرچینې څخه به په اتومات ډول لګښت واخیستل شي ترڅو ستاسو حساب په هغه ورته بیلانس ډک شي چې تاسو پورته غوره کړی.




کله مو چې انتخابونه وکړل، د پاڼې لاندې برخې ته راښکته شئ او "NEXT (بل یا راتلونکی)" تڼۍ باندې کلیک وکړئ.

**که تاسو کرېډټ کارټ انتخاب کړی وي،** دا هم انتخابولی شئ چې حساب مو تمویلونه په اتومات ډول بیا ډک کوي.

Good To Go!™ WSDOT

**How do you want to pay for tolls?**

You'll pay the same low toll rate with a *Good To Go!* pass no matter which payment option you choose.

◉ **Pre-Paid**

Pre-pay $30 when you open your account to cover future tolls. When your account balance gets low, it is automatically refilled via credit card. Or you can choose specific days of the month to refill the account via electronic checks.

○ **Pay As You Go**

After you drive, tolls are automatically charged to your credit card twice a month. No pre-paid balance required.

**Payment method**

◉ Credit card

○ Electronic check

**Additional deposit amount**

$ ______________ (optional)

**Auto Pay options**

☑ Refill my account automatically

When your account reaches a low balance of $8, your credit or debit card is automatically billed $30 to replenish your account. These are minimum required amounts to keep your account active.

کله مو چې انتخابونه وکړل، د پاڼې لاندې برخې ته راښکته شئ او "NEXT (بل یا راتلونکی)" تڼۍ باندې کلیک وکړئ.


کله چې مو حساب د کم بیلانس $8 ته ورسیږي، نو ستاسو کریډټ یا ډیبټ کارت څخه په اتومات ډول د $30 بل اخیستل کیږي ترڅو ستاسو حساب بیا ډک شي. دا ستاسو د حساب فعال ساتلو لپاره اصغري اړین مقدارونه دي.

Good To Go!™ WSDOT


# د "Review & Pay" (بیاکتنې او ادایني)" په پاڼه کې

د خپلې ادایني معلومات داخل کړئ.


**<u>که تاسو په پخوانۍ پاڼه کې کریډټ کارت د خپلې ادایني طریقې په توګه انتخاب کړی وي،</u>** نو تاسو به اړ وئ چې د خپل کارت معلومات، د بیل ورکولو پته او د بار وړلو پته دننه کړئ.




**<u>که تاسو Electronic Check (بریښنایي چک) د خپلې ادایني طریقې په توګه انتخاب کړی وي،</u>** نو تاسو به اړ وئ چې د خپل بانکي حساب معلومات دننه کړئ.



بیا باید پر شرایطو او مقرراتو او د ACH شرایطو او مقرراتو بیاکتنه او ورسره موافقه وکړئ. [شرایط او مقررات دواړه د واشنګټن ایالت د ترانسپورت وزارت (Washington State Department of Transportation، ESDOT) په ویبسایټ کې د PDF په توګه] په عربي، چینایي، کوریایي، روسي، سومالي، هسپانوي او ویتنامي ژبو کې شته دي. د "زه له Terms and Conditions (شرایطو او مقرراتو) سره موافق یم" خانه باندې پر کلیک کولو سره له شرایطو سره موافقه وکړئ.




تاسو تر موافقې وروسته باید د پاڼې په ښي اړخ کې د خپل نوي حساب پر ټولو معلوماتو بیاکتنه وکړئ ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ستاسو د قرارداد معلومات او د موثر معلومات کره دي.

بیا د پاڼې د ښکته برخه کې د "PAY NOW (اوس اداینه وکړئ)" تڼۍ باندې کلیک وکړئ.

مبارک! تاسو خپل *Good To Go! اکونټ یا حساب پرانیستی دی.* تاسو به هغې پاڼې ته یوړل شئ چې دا تاییدوي چې حساب پرانیستل شوی چې د تایید شمیره او ستاسو د پیرودونکي آیډي به پکې شامله وي. دا معلومات به هغې بریښنالیک پتې ته هم واستول شي چې د حساب پرانیستلو پر مهال مو کارولې وه.

که هر ډول پوښتنې، د خپل حساب پرانیستلو کې ستونزې لرئ یا نورې مرستې ته اړتیا لرئ، په مهربانۍ سره د پیرودونکو خدمتونو ته ته په 1-866-936-8246 شمېرې سره زنګ ووهئ. د ژباړې خدمتونه په وړیا ډول درته شته دي.